مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۱۳مه | دویم کال| ۳۱٦مه گڼه

# حامد کرزی: په سیمه کې زموږ ستراتیژیک موقعیت ته په کتو امریکا له افغانستانه نه وځي




۳

پاکستان په افغان سوله کې څه کوي او افغان حکومت ترې څه غواړي؟
۲ مخ

د ولسمشریزو ټاکنو معادله
۲ مخ

فشار چشم؛ دلایل، علائم، راه‌های تشخیص و درمان آن
۳ مخ

## د بشري حقونو سازمان: اسدالله خالد له بشري حقونو ډېرې سرغړونې کړې دي

د بشري حقونو نړیوال سازمان د دفاع وزارت سرپرست اسدالله خالد له بشري حقونو څخه په سرغړونو تورن کړی دی. دغه سازمان چې دفتر یې په نیویارک کې دی، په یوه راپور کې ویلي چې اسدالله خالد چې په کندهار کې والي و، شخصي زندانونه یې لرل چې د نوموړي د ماموریت له پیل څخه تر دې مهاله لا هم ځینې کسان ورک دي. دغه سازمان وایي، خالد په کندهار او غزني کې د ولایت پرمهال له خلکو سره بد چلند کړی او هغوی یې ځورولي دي. راپور وایي، خالد د قربانیانو کورنۍ گواښلې وې او ورته ویلي یې وو که چېرې په دې اړه څه ووایي، وبه یې وژني.
د بشري حقونو نړیوال سازمان ویلي، حکومت د خالد د محاکمه کولو اراده نه لري او له افغان حکومت سره له نړیوالو مرسته کوونکو هېوادونو څخه یې غوښتي چې د نوموړي په محاکمه کولو کې مرسته وکړي.
دغه سازمان ویلي، د امریکا متحده ایالتونه او کاناډا د دغو هېوادونو د قانون له مخې قانون ته د اسدالله خالد د سپارلو توان لري او ورڅخه غوښتي یې دي چې په دې برخه کې لاس په کار شي. د بشري حقونو نړیوال سازمان له اروپایي ټولنې هم غوښتي چې پر افغان حکومت جدي بندیزونه ولگوي او له دغه هېواد سره خپلې مالي مرستې بندې کړي. اسدالله خالد د پخواني ولسمشر حامد کرزي په حکومت کې د کندهار او غزني والي او د څه مودې لپاره د ملي امنیت عمومي رییس و، چې وروسته په یوه ځانمرگي برید کې سخت ټپي شو.

## د افغان سولې په تړاو سیمې ته د څلورم سفر په لړ کې؛ خلیلزاد له هندي چارواکو سره غږېدلی



۲ مخ

## پوهنتون


۴ مخ

## د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه

د دې موسسې رییس وايي، ټول استادان یې یوازې د لېسانس تر کچې لوړې زده کړې لري، خو اوس تازه یې دوه تنه د ماسترۍ لپاره له هېواده بهر چین او هند ته استولي دي.



## مسوولین: د هرات صادرات د تېرو ۹ میاشتو په پرتله ۱۵ سلنه زیات شوي



د هرات ولایت د سوداگرۍ او صنایعو خونه وايي، سږ کال د دغه ولایت صادرات د تېرو نهو میاشتو په پرتله پنځلس سلنه زیات شوي دي.
د دې خونې اجرایه امرخلیل احمد یارمند پرون ازادي راډیو ته وویل، له هراته نورو ولایتونو او ځینو هېوادونو ته غالۍ، وچې او تازه مېوې، د مرمرو ډبرې، زعفران او ځینې نور محصولات صادر شوي چې له درکه یې ۷۵ میلیونه امریکایي ډالره عواید ترلاسه شوي دي.
د دغه ولایت د سوداگرۍ او صنایعو خونې د معلوماتو له مخې، په دغه ولایت کې ډېر خلک پر کرنې او سوداگرۍ بوخت دي او له همدې درکه خپل اقتصاد جوړوي.
دوی وايي، که یې حکومت په خپل وخت حاصلاتو ته پام وکړي او په دې برخه کې یې شته ستونزې حل کړي، د دوی حاصلات به له دې کچې نور هم لوړ شي.

## شورای صلح: در آینده نزدیک نشستی میان علمای افغان و پاکستانی برگزار می‌شود



شورای عالی صلح می گوید که این هیئت با مقام‌های حکومت پاکستان دیدار کرده‌اند و توافق کرده‌اند که علمای دو کشور در آیندهٔ نزدیک یک نشستی را برگزار کنند.
سید احسان طاهری، سخنگوی این شورا می‌گوید که پاکستان متفاوت‌تر از گذشته بر ایجاد یک اجماع منطقوی برای صلح افغانستان و نیز کشانیدن طالبان به میز گفت‌وگوها با حکومت افغانستان وعده سپرده است.
طاهری گفت: «ما وقتی خوشبینی خود را محتاطانه اظهار می‌کنیم، بخاطری است که منتظر می‌مانیم که اولین گام پاکستان را پس از این سفر ببینیم، که خوشبختانه جد و جهد شان بیشتر شده و صدای شان واحد شده است».
پاکستان، پیش از این نیز برای زمینه‌سازی گفت‌وگوهای صلح وعده سپرده است، وعده‌هایی که تاکنون عملی نشده‌اند و بی اعتباری را میان دو کشور در پی داشته‌است. اما این که این بار پاکستان تا چه اندازه در عملی‌سازی وعده‌هایش تعهد خواهد داشت، آگاهان امور دیدگاه‌های متفاوتی دارند.
شیدا محمد ابدالی، سفیر پیشین افغانستان در هند می‌گوید: «اجماع منطقه‌یی بسیار ضرور است؛ کشورهای مثل چین، پاکستان و هند و ایران و روسیه و کشورهای منطقه، می‌توانند اجماع منطقه‌یی بوجود بیاورند».
در حالی که حکومت انتظار دارد تا کشورهای همسایه و غربی طالبان را وادار به گفت‌وگوهای رو در رو با حکومت بسازد، اما شماری از اعضای ولسی جرگه، دخیل شدن برخی از کشورها را در این روند انتقاد می کنند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019
Shigal English Academy
COMING SOON...

## دریځ

## پاکستان په افغان سوله کې څه کوي او افغان حکومت ترې څه غواړي؟

کابل ته د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر له سفر وروسته، د سولې عالي شورا د دارالانشا مشر او د سولې په چارو کې د ولسمشر ځانگړی استازی عمر داوودزی پاکستان ته ولاړ او هلته یې له پاکستاني چارواکو د افغان سولې په برخه کې د مرستې غوښتنه وکړه.
له پاکستاني چارواکو سره د داوودزي په اوږدو خبرو کې د دیني عالمانو د غونډې د جوړولو په گډون، پر ډېرو مسایلو خبرې شوې، خو د نوموړي اصلي غوښتنه له پاکستان څخه دا وه چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته حاضر کړي.
دا غوښتنه پوره کېدونکې ده؟
د سولې په خبرو کې د پاکستان پر نیت او اراده لا هم شکونه دي. پاکستان د سولې په پروسه کې د سعودي او اماراتو په را گډولو سره میلیاردونه ډالره واخیستل. له همدې امله یې پنځه طالب مشران د اماراتو غونډې ته بوتلل. پاکستان له افغان حکومت سره ژمنه کړې وه چې طالب استازي به له دوی سره مخامخ خبرو ته حاضروي، خو دا کار ونه شو. وروسته یې په سعودي کې د غونډې ژمنه وکړه، خو هغه غونډه هم ونه شوه. تېره اونۍ چې ټاکل شوې وه په قطر کې د طالب او امریکایي استازو ترمنځ غونډه وشي، له پاکستان څخه درې طالب مشران قطر ته روان وو، خو پاکستان اجازه ور نه کړه او په قطر کې هم خبرې ونه شوې. ویل کېږي چې پاکستان له قطر څخه هم د همکارۍ په بدل کې د مرستې غوښتنه کوي.
اوس پاکستان رښتیا نه غواړي چې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کېنوي او که نه شي کولی؟
څه چې ښکاره دي، که پر هغو باور وکړو، د اماراتو او سعودي غونډو وښوده چې پاکستان پر طالبانو هر څه نه شي منلی. داسې هم ویل کېږي چې پاکستان ظاهراً غوښتل چې طالبان او افغان چارواکي مخامخ خبرو ته سره کېني، خو په پټه یې طالبانو ته ویلي وو چې ناسته به نه کوئ. اوس دواړه بحثونه شته. پاکستان یا نه غوښتل چې طالب استازي له افغان حکومت سره کېني او یا یې ونه شوی کولی. په دواړو حالتونو کې، له پاکستان څخه د حکومت دا غوښتنه منطقي ده چې هغوی دې طالبان له افغان چارواکو سره خبرو ته حاضر کړي؟
که پاکستان نه غوښتل چې دا کار وکړي، نو اوس هم هېڅ نه دي بدل شوي او افغان حکومت به پاکستان ته قناعت ور نه شي کړلی چې طالب استازي خبرو ته حاضر کړي. حکومت نه پر پاکستان داسې فشار راوړلی شي، چې تصمیم یې بدل شي او نه هم داسې څه ورکولی شي چې پاکستان دې پرې خپل دریځ بدل کړي. پر همدې بنسټ له پاکستان څخه دا غوښتنه بې ځایه ده چې هغوی دې طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کېنوي. له بله اړخه که پاکستان پر طالبانو دومره کنټرول نه لري چې هغوی خبرو ته حاضر کړي، بیا هم د افغان حکومت غوښتنه بې ځایه ده او ستونزه به حل نه شي.
دا ستونزه هغه وخت لا نوره زیاتېږي چې د افغان سولې په تړاو د امریکا او پاکستان د پټې معاملې شکونه جدي وگڼل شي.
اوس افغان حکومت باید له پاکستان سره د تکراري او بې مانا خبرو پر ځای، له امریکا سره روښانه او پرېکنده خبرې وکړي. د سولې په تړاو له پاکستان سره د حکومت خبرې گټه نه کوي، خو له امریکا سره روښانه او پرېکنده خبرې افغاني گټې خوندي کولی شي.

# د ولسمشریزو ټاکنو معادله

لیکنه: اسماعیل یون

تر اوسه لا وخت شته چې سړی په څرگند ډول د ټاکنیزو ټکټونو په باب غوڅ نظر څرگند کړي، خو کوم څه چې لا تر مخه ښکاره دي، هغه په ټاکنو کې د قومیت د عنصر څرگند اغېز دی. د بېلگې په توگه، که کرزی او غني اکثریت پښتنو ته منسوب نه وای، نو دا څوکۍ به یې په خیال کې هم نه وه لیدلې، خو د اکثریت پښتنو ترڅنگ د نورو قومونو او قومي لږکیو شتوالي هم ټاکنو ته خپل خاص جذابیت ورکړی او د گټونکي نوماند په گټه یې د یو کتلېست رول اجرا کړی دی. ځینې اقلیتونه او د هغوی مشران پر دې نزاکت ښه پوهېږي، په داسې حال کې چې اکثریت پښتون مېشته سیمې د جگړې په اور کې سوځي او په دغه حالت کې د طبیعي ووټ ساحه راتنگېږي، نو داسې شرایط د دوی لپاره یو طلایي چانس دی چې خپل قیمت تر اصلي حالته څو ځله لوړ کړي. له دغو واقعیتونو سره سره د تاجکانو په نامه له مطرح شویو ځینو څرگندو څېرو پرته نور قومونه د لومړۍ څوکۍ لپاره سیالۍ ته زړه نه ښه کوي.
په دې کې د پنجشېر نظار شورا ډېره زیاته مطرح ده. دوی هم جمهوري ریاست ته کاندید ورکوي او هم له احتمالي گټونکي کاندید سره خپل یو یو مرستیال ملگری کوي. دوی وایي، که موږ وگټله، نو رییس جمهور به زموږ وي او که مو بایلله، نو مرستیال خو مو تیار خوندي دی. که اوي شوه که للمي، د دوی برخه خوندي ده او د دې ترڅنگ اپوزېشن هم له لاسه نه ور کوي. د کرزي صیب په دوو دورو کې ما د یو ملتپال افغان په توگه هڅه وکړه چې د جمعیت او نظار شورا دا طلسم مات شي، خو د کرزي صیب په څېر ډېرو ځان ساتو پښتنو سیاستوالو زموږ څېرې ته کوم ارزښت ور نه کړ.
کله چې د کرزي صیب تر دوو دورو وروسته د ډاکټر صیب غني د نوماندۍ وخت را ورسېد، نو ما ورته په زغرده وویل چې که د کرزي صیب په شان دې د نظار شورا او یا جمعیت څخه څوک د لومړي مرستیال په توگه راوست، موږ دې سر له اوسه مخالف یو او گټلی یې هم نه شې. ما ورته وویل چې د جمهوري ریاست ټاکنیز ټکټ د یو مثلث بڼه لري، هر چا چې د دغه مثلث درې واړه ضلعې د اکثریت پښتنو په گډون د دوو نورو مطرحو قومونو( ازبکو او هزاروو) په استازو ډکې کړې، همغه کاندید گټونکی دی او همدا د ټاکنو سیاسي ریاضي ده.
هغه وخت زما خبرې پر غني او نورو ناستو مصلحتي او ډارنو سیاستوالو ښې ونه لگېدې، خو وروسته یې بیا همدا خبره ومنله. څه موده وروسته ښاغلي غني راته د یوې غونډې د پیل په بهیر کې په غوږ کې ورو وویل: «ستا فورمول خو مې عملي کړ، ښه فورمول دی اوس خو به مې ملاتړ کوې؟» هدف مې دا دی چې په تېرو ټاکنو کې د غني د بري راز په دې کې و چې د جمعیت د بې رایو مرستیال پر ځای یې د ازبکو رایې را خپلې کړې. دا چې دوستم له اخلاقي او علمي پلوه د دغه پوست لپاره څومره وړ و کنه، دا بېل بحث دی. خو رایې یې غني ته ډېرې په گټه وې.
زما خپل هدف همغه مهال هم دا و او اوس هم دا دی چې ازبک قوم باید په ټولیز ډول د سیاسي قدرت په دایره کې داخل شي. هدف مې له شخص څخه نه و او نه موږ غوندې خلکو ته د دوستم جرمي سابقه د زغم وړ وه. غني بیا دا مهال له احمدضیا مسعود سره بله معامله هم روانه کړې وه، له هغه سره یې په پټه د درېیم معاونیت او یا د هغه د معادل پوسټ د جوړولو ژمنه کړې وه. ما همغه وخت د غني خوا ته د احمدضیا مسعود له راتگ سره ځکه مخالفت وښود چې د دغه راتگ قیمت خورا زیات او د اساسي قانون له محتوا څخه د سرغړاوي په بیه و. زه پر دې پوهېدم چې احمدضیا مسعود لکه څنگه چې یې کرزي ته رایې را نه وړې، دغسې یې غني ته هم نه راوړي، خو دا څو رایې چې راوړي هم، دا د ډاکټر عبدالله هغو لسگونو زرو جعلي رایو ته مشروعیت ورکوي چې هغه یې په پنجشېر او نورو تاجک مېشتو سیمو کې د درغلۍ له لارې د ځان په گټه کاروي.
تر ټاکنو وروسته غني له عبدالله سره گډ حکومت جوړ کړ، احمدضیا ته یې د قانون خلاف خپل امتیازات ور کړل، خو موږ یو ځل بیا د قانون لار ونیوله او تر ننه همدا لاره پالم. اوس چې یو ځل بیا د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره ټاکنیز ټکټونه خپله بڼه خپلوي، نو دې یادښت لیکلو ته اړ شوم. کله چې خبر شوم چې اتمر صیب په خپل ټکټ کې یونس قانوني ته ځای ور کړی، نو ما ورته مشوره ور کړه چې قانوني نه یوازې تاته د رایې د راوړنې سبب نه کېږي، بلکې ستا رایې به خرابې کړي. ما ورته وویل چې دوی یو ځل بیا همغه لوبه تکراروي چې مخکې یې کړې وه. یو کار چې درې ځله تجربه شي، هغه بیا ولې تکرار شي. ما ویل قانوني به دومره رایې درته راوړي لکه انجنیر محمدخان چې ډاکټر عبدالله ته ور کړې وې، تر هغو به لا هم کمې وي؛ ځکه تاجک به وایي، له اتمر سره خو مو له رایو پرته څوکۍ خوندي شوه، اوس نو راځه د ولسمشرۍ لپاره خپل کاندید ته رایه ور کړه.
په دې ورځو کې چې یونس قانوني خپل غږیز او بیا ویډیويي پیغام نشر کړ، نو خبره تر مرستیالۍ هم پورته لاړه. هم له اتمر سره اول معاونیت غواړي، هم د جهاد او مقاومت له حوزې یو بل کاندید دروي، هم د صدارت پوست ایجادوي، هم درېیم معاونیت رامنځته کوي، هم والیان نیمه انتخابي کوي او هم رایې نه ور کوي، نو اوس به څوک وي چې ورته ووایي چې کله هم احمدولي مسعود ستاسو د جهاد او مقاومت د حوزې کاندید وي، خو همغه ښاغلی بریالی کړه، ټولې غوښتنې مو په یو وار عملي کېږي، نو ضرورت څه دی چې اتمر او غني سره هم یو یو مرستیال پېینه کوی.
کله چې قانوني خپله اعتراف کوي چې د ولسمشرۍ مقام ته نه شي رسېدلی، نو بیا ولې له هغه سره د اکثریت ولس د هیلو خلاف معامله وشي. قانوني خو اتمر صیب له گرنگونو گوزار کړ، خو اوس وار د غني صیب دی چې د بل کوم جمعیتي له لاسه به ورته گوزار خوري. ښاغلي غني خپل مخلوع وزیر(صلاح الدین رباني) ته تر اوسه پورې په لسگونو جرگې ور لېږلې دي چې د ده مرستیالي ومني، دا چې د هغه مرستیالي به پښتنو ته په څومره سرټیټۍ او هېواد ته به په څومره قانون ماتونې تمامه شي، دا به څو ورځې وروسته روښانه شي. همدارنگه له عبدالله سره هم د معاملې څرکونه ښکارېږي.
اوس د نتیجې په توگه وایم، هر کاندید چې له جمعیت او نظار شورا سره د خپل قدرت لپاره معامله کوي، له دې وطن سره خیانت گڼل کېږي. جمعیت او نظار شورا په افغاني سیاست کې یوه منفي پدیده ده او دا چې له هرې بلې مثبتې پدیدې سره یو ځای شي، هغه پر منفي هغې بدلوي.
نو غني او یا اتمر که غواړي په ټاکنو کې بریالي شي او یا په لومړي او دویم مقام کې راشي، نو له ازبکو، هزاره وو او یا نورو ورونو قومونو څخه دې غوره اشخاص د مرستیالانو په توگه غوره کړي. احمدولي مسعود، قانوني، صلاح الدین، نور جمعیتیان او نور تاجک ورونه دې دا ځل پرېږدي چې له کوم تشویش او ابهام پرته د خپلې خوښې خپل کاندید ته رایه ورکړي او تر ټاکنو بل ښه بدیل خو لا دا دی چې ټول په گډه د سولې لپاره کار وکړو. هر چا که په افغانستان کې سوله ټینگه کړه، له وټونو پرته هغه د خلکو پر زړونو ولسمشر دی. هم محبوب دی، هم اتل دی او هم د ابدي عزت څښتن دی. نورې خبرې بیا په بله لیکنه کې، خو په پای پای کې د غني او اتمر له اورپکو پلویانو هیله کوم چې ډېره گرمه او ډېره سړه یې مه خورئ چې دواړه حالته ستوني ته زیان رسوي. د اشخاصو پر ځای د سیسټمونو او قانون ملاتړ وکړئ، راځئ څوک چې له قانونه سرغړونه کوي، مخه یې ونیسو. زموږ د خلاصون لار قانون دی، د قانون پلي کېدنه او قانون پالنه.

### د افغان سولې په تړاو سیمې ته د څلورم سفر په لړ کې؛

## خلیلزاد له هندي چارواکو سره غږېدلی



د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، له هندي چارواکو سره یې د افغان سولې په تړاو دوه اړخیزې خبرې کړې دي.
خلیلزاد په ټویټ کې ویلي: «زموږ هېوادونه له افغانستان سره اوږدمهاله ژمنې لري، موږ په دې اړه چې په افغانستان کې څنگه تل پاتې سوله ټینگېدای شي، خبرې وکړې او د دوه اړخیزو او سیمه ییزو ممکنه همکاریو باندې مو هم خبرې وکړې».
خلیلزاد د روانې جنورۍ میاشتې پر ۸ مه د افغان سولې په تړاو سیمې ته خپل څلورم سفر پیل کړ. نوموړی لومړی هند ته ولاړ او ټاکل شوې چې تر هغه وروسته به چین، پاکستان او افغانستان ته هم سفرونه وکړي.
د هند د بهرنیو چارو وزارت هم وړمه ورځ وویل چې د یو باثباته افغانستان لپاره د افغان سولې له پروسې ملاتړ کوي.
هندي چارواکو همدارنگه له خلیلزاد سره د لیدنې پرمهال د افغان سولې په برخه کې، له خپل اړخه د همکاریو ډاډ ورکړی دی.
د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند رویش کومار پر خپل ټویټر لیکلي: «د هند د بهرنیو چارو وزیرې سوشما سواراج د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانگړي استازي ښاغلي زلمي خلیلزاد سره وکتل. دواړو لورو په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په اړه خپل نظرونه سره شریک کړل.»
دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د هند د پوځ مشر ویلي وو چې هند هم باید له طالبانو سره د سولې په خبرو کې شامل شي، څو خبر شي چې څه روان دي.
د یادونې ده چې هند له افغانستان سره تر امریکا، جرمني او جاپان وروسته څلورم لوی مرسته کوونکی هېواد دی.

## ولسي جرگه: د افغان حکومت په نشتون کې دې له طالبانو سره د نورو هېوادونو لیدنې بندې شي

د ولسي جرگې غړي وایي، د افغان حکومت په غیاب کې له طالبانو سره د امریکا په گډون د سیمې د هېوادونو هر ډول لیدنې او خبرې باید بندې شي.
دوی وایي، د بهرنیو چارو وزارت باید د یوې اعلامیې په خپرولو سره له ټولو هغو هېوادونو چې د افغان سولې په اړه یې خبرې پیل کړې، وغواړي چې د افغان حکومت په نشتون کې له وسله والو طالبانو سره خبرې نه شي کولای.
د جرگې غړو د شنبې د ورځې په عمومي ناسته کې وویل، دا ډول خبرې هېڅ گټه نه لري، بلکې د دوی په خبره، له طالبانو اتلان جوړوي او افغان حکومت کمزوری ښیي.
د جرگې مشر عبدالرووف ابراهیمي وویل: «واقعیت دا دی چې له مخالفینو سره د ملي یووالي حکومت د استازي له حضور پرته د سیمه ییزو هېوادونو هر ډول لیده کاته قطعاً د سولې له پروسې سره مرسته نه کوي، بلکې دا به یو ډول طالبان اتلان او د ملي یووالي حکومت ضعیف وښیي او د افغانستان په چارو کې یو ډول مداخله هم گڼل کېدای شي.»
وکیلانو دغه راز وویل، په ابوظبۍ، قطر، مسکو او تهران کې لیدنو ونه شوی کړای چې د سولې په اړه مستقیمو خبرو ته زمینه برابره کړي.
دا خبرې داسې مهال مطرح کېږي چې په دې وروستیو څو میاشتو کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سفرونه سیمه ییزو هېوادونو ته زیات شوي دي.
د خلیلزاد د سفرونو ترڅنگ، په دې وروستیو میاشتو کې د امریکایي چارواکو په گډون، طالب استازو د افغان دولت د استازو له حضور پرته په ابوظبۍ، قطر، مسکو او تهران کې د همدغو هېوادونو له چارواکو سره ناستې کړې دي.
دا په داسې حال کې ده چې د افغان حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله د تېرې چهارشنبې په ورځ په یوه غونډه کې



وویل چې تر دې دمه د طالبانو په دریځ کې هېڅ ډول بدلون نه دی راغلی.

# حامد کرزي: په سیمه کې زموږ ستراتیژیک موقعیت ته په کتو امریکا له افغانستانه نه وځي




پخواني ولسمشر حامد کرزي لـه هنـدي رسنیو سره په خبرو کې ویلي، د افغانستان ستراتیژیک موقعیت د امریکا لپاره خورا مهم دی. د ده په خبره، امریکا بـه هېڅ وخت د افغانستان پـه خبـر ستراتېژیک هېـواد پرې نـه ږدي او هڅه کـوي چې دلته دایمـي حضـور ولـري. پخـواني ولسـمشر په دغـه مرکه کـې ویلي، افغانستان په داسې سیمه کـې پـروت دی چـې شـاوخوا یـې پیـاوړي هېوادونـه او د امریـکا سیالان دي، ځکـه خـو امریکا نه غـواړي چـې دلته خپل حضـور ختـم کـړي. هغـه زیاتـه کـړې چـې ښـایي امریـکا د خپلـو ځواکونـو شـمېر کـم کـړي، خـو د نظامـي اډو پـر مټ بـه خپـل نظامـي حضـور تـه ادامـه ورکـوي.

پخـواني ولسـمشر همـدا راز د افغان سـولې پـه اړه ویـلي، دغـه خبرې بایـد د افغانانو په مـشرۍ او مالکیـت وشي. د ده پـه خـبره، د افغانسـتان روانـه جگـړه یـوازې او یـوازې د خـبرو لـه لارې د حـل وړ ده، خـو د دغـو خـبرو مـشري بایـد د افغانانـو پـه لاس کـې وي او طالبانـو تـه هـم پـکار ده چې د امریکا او نـورو هېوادونـو پـر ځـای مخامـخ لـه افغان حکومـت سره خـبرې وکـړي. د حامـد کرزي پـه خـبره، پـه افغانسـتان کـې چـې روانـه جگـړه ځومـره اوږدېږي، زیانونـه یـې ډېرېږي او لـه افغانانـو قربانـۍ اخـلي.

ښـاغلي کـرزي لـه افغانسـتانه د امریکایـي ځواکونـو وتـل پـر ځـای اقـدام بللـی دی او پـه خـبره یـې دا چـې امریکایـي ځواکونه له افغانسـتانه وځـي، نو افغان پوځیـان پیاوړي کېـږي او اړ کېـږي چـې لـه خپـل هېـواده دفـاع وکـړي، خـو نومـوړی پـر دې بـاوري دی چـې امریکایـان له افغانسـتانه نه وځـي. د ده پـه خـبره، امریکایـي ځواکونـه بـه پـه سیمه کـې د حضـور لپـاره پـه افغانسـتان کـې پاتـې کېـږي.

هغـه پـه خپلـو خبرو کې پاکسـتان د طالبانو ملاتـړی هېـواد بللی، خـو هیله یې ښـودلې چـې د عمران خان په مـشرۍ نوی حکومت بـه د ترهگـرۍ د ملاتـړ پـر ځـای د سـولې پـه پروسـه کـې همـکاري وکـړي. حامـد کـرزي ویـلي، عمـران خـان ځـان سـولې تـه ژمـن بولي، نو د دې تمه شـته چې په افغانسـتان کـې د روانـې جگـړې پـه پـای تـه رسـولو او سـولې راوسـتلو کـې خپله ونـډه واخلي.

کـرزي همـدا راز هنـد د افغانسـتان ښـه ملگـری بللـی دی او پـه وینا یـې نوی ډهلي کولـی شي چـې د افغانسـتان پـه پرمختگ، د افغـان پـوځ پـه روزلـو، افغـان ځوانانـو ته د زده کـړې زمینـې برابرولـو او پـه افغانسـتان کـې د سـترو پـروژو پـه پیلولو او عمـلي کولو کـې د پـام وړ ونـډه واخـلي.

د ښـاغلي کـرزي پـه خـبره، هنـد د افغانسـتان د یـوه ښـه گاونـډي پـه توگـه د سـولې پـه پروسـه کـې هـم د پـام وړ مرسـته کولـی شي. نومـوړی وایـي، هنـد کولی شي د ځینـو نـورو هېوادونـو پـه څېـر لـه طالبانـو سره مخامـخ اړیکـه ولـري او دغـه ډلـه دې تـه تیـاره کـړي چـې له افغـان حکومـت سره خـبرې وکـړي. پخـواني ولسـمشر د ټولـې سـیمې د پرمختگ لپاره د افغانسـتان سوله او ثبـات مهـم بلـلي او پـه خـبره یـې کـه د افغانسـتان گاونډیـان غـواړي چې په سـیمه کـې اقتصـاد او سـوداگري وده وکـړي، نو تر هر څه وړاندې دې د افغانسـتان په سـوله او امنیـت کـې ټولـې هڅـې سره همغږې کـړي.

## سرچیني: د ولسي جرگې د پایلو تر اعلان وروسته به کمېشنران له دندو لرې شي



حکومتي سرچینې وایي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون اوسني برحاله کمېشنران به د ولسي جرگې د ټاکنو د وروستیو پایلو تر اعلان وروسته له دندو لرې شي.

دې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ازادي راډیو ته ویلي، افغان حکومت او نړیواله ټولنه دې پرېکړې ته رسېدلي چې د چنگاښ د ۲۹مې نېټې د ولسمشریزو ټاکنو مدیریت نوي کمېشنران وکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون مرستیال ویاند ذبیح‌الله سادات په دې اړه له خبرو کولو ډډه کړې او ویلي یې دي چې په دې تړاو خبرې کول د کمېشنرانو د غوراوي کمېټې له صلاحیتونو څخه دي.

د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ مشر یوسف رشید وایي چې ولسمشر د کمېشنرانو د لرې کولو صلاحیت لري.

نوموړي په دې اړه وویل: «د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون د غړو د تغیر او تبدیل په برخه کې ولسمشر همغه شان چې د دغو کسانو د گومارلو صلاحیت لري، د لرې کولو صلاحیت هم ورسره دی. د انتخاباتو د قانون له مخې، کله چې د انتخاباتو خپلواک کمېسیون غړي له اساسي قانون او د انتخاباتو له قانونه سرغړونه وکړي، دوی له دندو لرې شوي حسابېږي. که موږ د انتخاباتو قانون او اساسي قانون ته ځیر شو، نو د قانون څخه د سرغړونې زیاتې بېلگې لرو چې قانون پکې تر پښو لاندې شوی دی.»

د رشید په خبره، په خپل وخت سره د ولایتي شوراگانو د ټاکنو نه ترسره کول، د رایې ورکوونکو د نوملړ نه خپرول، د ټاکنو د کمېسیون د دارلانشا د رییس په اړه حکومت ته د قانون په خلاف د نوملړ لېږل، د رایې ورکولو له حقه د ډېرو خلکو محرومېدل او ځینې نور موارد، هغه څه دي چې له قانونه ښکاره سرغړونې شمېرل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د روان کال د تلې د ۲۸مې او ۲۹مې نېټې د ولسي جرگې ټاکنې له پراخو نیوکو، درغلیو او لاسوهنو سره ملې وې.

که څه هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون په دغه بهیر کې د کمېسیون د غړو لاسوهنه ردوي، خو له دې وړاندې پر ټاکنو د څار ځینو بنسټونو د ټاکنو خپلواک کمېسیون په درغلیو او قانون ماتونې تورن کړی دی.

بلخوا په کابل کې د امریکا سفارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې د افغانستان په ټاکنیزو بنسټونو کې دې جدي اصلاحات راوستل شي.

په دې اعلامیه کې راغلي: «دا په افغانانو پورې اړه لري چې خپل مشران وټاکي او دوی مستحق دي چې د انتخاباتو یوه وړتیا لرونکې اداره ولري او داسې کارپوه کسان پکې وي چې د انتخاباتو پر پروسه د خلکو باور بېرته تر لاسه کړي».

دغه راز په اعلامیه کې د ولسي جرگې په ټاکنو کې پراخو تخنیکي او مدیریتي ستونزو ته هم اشاره شوې ده.

## دفاع وزارت: د افغان هوایي ځواک په اړه د نیویارک ټایمز وروستی خبر بې بنسټه دی

دفاع وزارت د نیویارک ټایمز هغه خبر رد کړی چې گواکې د افغانستان د هوایي ځواک د پیاوړتیا لپاره د امریکا هڅې بې پایلې دي.

د دغه وزارت ویاند غفور احمد جاوید پرون ازادي راډیو ته وویل، افغان هوایي ځواکونه لوړ ظرفیت او پرمختللې جنگي الوتکې لري.

نوموړی په دې اړه زیاتوي: «لومړی دا چې موږ دغه راپور ردوو، ځکه زموږ هوایي ځواکونه اغېزمن واقع شوي. موږ نوې الوتکې لرو، ۳۰ بلک هاک الوتکې را رسېدلې، همداشان د پیلوټانو تعلیم او روزنه مو روانه ده، تاسې شاهد یاست چې زموږ پیلوټان هوایي عملیات ترسره کوي.»

جاوید وایي، په دې برخه کې به د امریکا مرستې تر ۲۰۲۳ ز کال پورې دوام وکړي او افغانستان ته به لسگونه نورې الوتکې هم ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د هېواد ځینو چاپي رسنیو د امریکایي ورځپاڼې نیویارک ټایمز په حواله لیکلي وو، له یوولسو کلونو راهیسې امریکا د افغان هوایي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره هڅې پیل کړې او په دې برخه کې یې کابو ۸ میلیارده ډالره مصرف کړې، خو له دې سره سره بیا هم دا هڅې بې پایلې روانې دي.

نیویارک ټایمز دغه راز د ځینو متخصصینو له قوله لیکلي وو چې افغانان د الوتکو د خوندیتوب او د هوایي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره د امریکا دوامدارو مرستو ته اړتیا لري.

د نیویارک ټایمز دغه خبر په داسې حال کې خپور شو چې روان کال د افغان هوایي ځواک اته چورلکې د تخنیکي ستونزو او د طالبانو د حملو له کبله نسکورې شوې دي چې د لوړپوړو چارواکو په گډون ډېر پوځیان پکې وژل شوي دي.

افغان هوایي ځواک دا مهال د پر روسیو هلیکوپټرو سربېره، نورې جنگي الوتکې لکه سوپر توکانو او بلک هاک هم لري

په ورته وخت کې ځینې پخواني پوځي چارواکي د افغان هوایي ځواکونو لوړ لگښت ته په کتو، پر دې باور دي چې دغه هېواد په دوامداره توگه د امریکا مرستو ته اړتیا لري.



د دفاع وزارت پخوانی لوی درستیز شېرمحمد کریمي وایي، د افغان هوایي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره د امریکا هڅې اوس هم بې پایلې دي.

نوموړي زیاته کړې: «اوس هم موږ ضرورت لرو، ځرنگه چې زموږ هیله او غوښتنه ده، هوایي ځواکونه مو په پښو نه دي درېدلي. له یوې خوا مرسته شوې او له بلې خوا جگړه ده او تلفات او ضایعات پکې لرو، له همدې امله زموږ هوایي ځواکونه پیاوړتیا او ملاتړ ته ضرورت لري.»

کریمي وایي، د هوایي ځواکونو د پیاوړتیا لپاره چې تر اوسه میلیاردونه ډالره مصرف شوي، کافي نه دي او په دې برخه کې باید بهرنۍ او په تېره بیا د امریکا مرستې دوام ولري.

## پامپیو: پر ایران د فشار راوړلو لپاره راتلونکې میاشت په وارسا کې غونډه جوړوو

د امریکا متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، متحده ایالتونه او پولنډ به راتلونکې میاشت د منځني ختیځ په اړه یو نړیوال کنفرانس جوړ کړي چې پر ایران به د فشارونو د راوستلو لارې چارې پکې ولټول شي.

دا په داسې حال کې ده چې له سوریې د امریکایي ځواکونو د ایستلو په اړه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ حیرانوونکې پرېکړې د عربي هېوادونو او اسرائیلو تر منځ اندېښنې رامنځته کړې چې گواکې ایران به په دې سره په سیمه کې خپل نفوذ زیات کړي.

د امریکا او پولنډ د دې پرېکړې له مخې به د فبرورۍ په ۱۳مه او ۱۴مه د ډېرو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیران د پولنډ په پلازمېنه وارسا کې سره راټول شي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر له فاکس نیوز سره په مرکه کې ویلي: «له اسیا، افریقا، لوېدیځو هېوادونو، اروپا او د منځني ختیځ هېوادونه سره ټولېږي. د منځني ختیځ په سولې او ثبات او د دې سیمې د ازادۍ او امنیت په اړه به تمرکز کوي او یوه بله مهمه خبره دا چې دا به یقیني کوي چې ایران بې ثباته کوونکی اثر نه لري.» د امریکا او پولنډ د بهرنیو چارو وزارتونو د دغه کنفرانس په اړه په گډه اعلامیه کې ویلي چې د وارسا په ناسته کې گډونوال وزیران به د تروریزم، افراطیت، د توغندیو د پراختیا او پرمختگ، سوداگرۍ، سمندري امنیت او په سیمه کې د نیابتي ډلو د گواښونو په اړه خبرې وکړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې تایید کړې چې پولنډ هم د نورو اروپایي هېوادونو په څېر له هغې اټومي موافقې ملاتړ کړی، له کومې چې امریکا وتلې ده.

خو د هغې په خبره، د وارسا ناسته یو مهم پیغام لري او هغه دا چې له ایران سره د نړۍ د قدرتونو د اټومي هوکړې په اړه د مخالف لیدلوري لرونکي هېوادونه هم کولای شي چې د سیمې د مسایلو د حل لپاره سره راټول شي. پولنډ د امریکا متحد هېواد دی چې د اروپا د دوو لویو قدرتونو جرمني او فرانسې په پرتله یې د ولسمشر ټرمپ له ادارې سره ښې اړیکې پاللې دي.

ټرمپ د ۲۰۱۸ ز کال په وروستیو کې پر ایران سخت بندیزونه ولگول، خو د لوېدیځ نورو هېوادونو یې ملاتړ ونه کړ.

ایران تر اوسه د امریکا او پولنډ د دې غونډې په اړه غبرگون نه دی ښودلی.




## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډیویډ شوارتز

ژباړن: میراحمد یاد

### درېیم څپرکی
### پر ځان باور وکړئ
### او وېره ووژنئ




دا جمله مو د بریا د لارښوونې په کتابچه کې یادداښت کړئ چې اقدام وېره له منځه وړي.

اقدام رښتیا هم وېره له منځه وړي. څو میاشتې وړاندې راته څه باندې د ېرش کلن خپه مدیر راغی، دا سړی د یوې لویې څو څانګیزې مغازې د خرڅلاو مسئول و، کار یې نسبتاً زیات و، ماته یې په اندېښنې وویل:

(زه وېرېږم چې کار و نه بایلم، داسې ښکاري چې وروستۍ ورځې مې دي.)

ومې ویل: ولې؟

ویل یې: (هېڅ شي کې ښه نه یم روان. زما په برخه کې خرڅلاو له تېر کاله اوه سلنه نه دی لوړ شوی او دا جالبه نه ده، ځکه د مغازې ټول خرڅلاو ٦٪ لوړ شوی دی. دې وروستیو کې مې چې هره پرېکړه کړې عاقلانه نه وه. د خرڅلاو مدیر هم راته څو ځله وویل چې د شرکت له پرمختګ سره سم مزل نشې کولای.

تراوسه مې ځان دومره بیوزله نه و لیدلی. کار رانه شړېدلی دی او دا بیخي ښکاره خبره ده. زما معاون دا هرڅه احساسوي. پلورونکي یې هم ویني. نور مدیران هم زما له ناګټورتیا خبر شوي دي. ان په یوه ناسته کې د خرڅلاو مدیر یوه ته وړاندیز وکړ چې زما کار به هغه ته وسپاري او دلیل یې ورته دا وښود، چې د مغازې عاید لوړ شي. ماته داسې ښکاري چې زه نور ډوبېږم... زه ډوبېږم، ځینې نور راته په کناره ولاړ دي او د ډوبېدو تماشه مې کوي.)

د سړي خبرې اوږدې شوې، ما یې خبره پرې کړه، ومې پوښت: نو ته څه غواړې؟ څه کوې؟ د خپلو ستونزو د حل لپاره دې څه پرېکړه کړې ده؟

ویې ویل: (زه داسې فکر کوم چې زما له لاسه هېڅ نه دي پوره، یوازې په تمه به شم ... که حالات لږ ښه شي.)

ما ورته وویل: نو یوازې هیله بس ده؟

یوه شېبه غلی وم، تر څو چې هغه ځواب راکاوه، بله پوښتنه مې ترې وکړه: ولې داسې یو کار نه کوې چې دا ستا هیله مندي لږه معقوله وښیي؟

ویې ویل: (یعنې څه وکړم؟)

ورته ومې ویل:

(زه فکر کوم تاته دوه لارې پاتې دي: یوه دا چې ته له نن ماسپښینه د خپل خرڅلاو کچې لوړولو ته کار ووایه. دا باید ومنو چې ستا د خرڅلاو ټیټېده به دلیل لري. هغه دلیل پیدا کړه. ښایي یوه استثنایي سودا وکړې، خپل پاتې شوي مالونه ټول اوبه کړې او پر ځای یې نوي مالونه راوړې. ښایي د خپلې مغازې ډیزاین بدل کړې یا به دې ښایي پلورونکي د خرڅلاو روحیه نه لري. زه دقیق نشم ویلای چې ستا د خرڅلاو کچه به په څه شي لوړه شي، خو د ټیټېدو یو لامل یې حتمن شته. د مغازې له مدیر سره شخصي ناسته او خبرې هم ښه لاره ده. ښایي اوس دې له کاره شړي، خو که ته ورسره کېنې، خپله ستونزه ورسره شریکه کړې او مشوره ترې وغواړې، نو کېدای شي چې د قضیې د حل لپاره لږ نور وخت او فرصت درکړي، کېدای شي هغه تا وساتي، ځکه دا به ورته ډېره سخته وي، چې ستا پر ځای بل کس راولي. نو نوي مامورین دې فعال کړه، ستا د شاوخوا خلک باید پوه شي چې ته لا ژوندی یې.

د سړي سترګې وځلېدې، پوښتنه یې وکړه: (تاسې وویل چې دوه کاره کولای شم، دویم کار څه دی؟)

ورته ومې ویل: دویم کار بیا تضمیني پالیسي بللی شو ... هغه داسې چې خپل دوه درې نږدې ملګري دې خبره کړه چې همداسې، خو له دې ښه دنده درته ولټوي.

که ته د خرڅلاو زیاتولو لپاره هلې ځلې پیل کړې، زه فکر نه کوم چې له کار د ویستو امکان دې دومره زیات پاتې شي، خو د اوس لپاره به درته دا ښه وي چې دوه درې ځایه نور هم سترګې وګرځوې او دا یاد ساته چې په کار بوخت انسان د اوزګار هغه په پرتله دوه چنده په اسانۍ کار موندلای شي.

دوه ورځې مخکې راسره هماغه مدیر اړیکه ونیوله:

(تا سره له خبرو وروسته مې لږ کار پیل کړ. خپل کاري پلانونه مې بدل کړل، خصوصاً په پلورونکو مې ډېر زیات کار وکړ. پخوا به مو یو ځل د خرڅلاو ناسته (جلسه) کوله، خو اوس هر سهار د خرڅلاو ناسته کوو. پلورونکو له کار سره مینه پیدا کړې ده. زه فکر کوم په ما کې یې چې تازه روحیه ولیده، نو خپله یې هم په کار کې هلې ځلې زیاتې کړې. ته وا ټول دې ته په تمه وو چې زه یو ځل بیا کار پیل کړم.

اوس کارونه په ښه کېدو دي. د تېرې اونۍ خرڅلاو مو د تېر کال په پرتله زیات و او د ټولې مغازې له اوسطه هم لوړ شوی دی.)

بیا یې وویل: ( رښتیا یو زیری هم لرم، په کومه ورځ چې له تاسره غږېدلی یم، له هغې وروسته راته د کار دوه وړاندیزونه شوي دي، زه دې وړاندیزونو ته خوښ یم، خو دا چې دلته مې حالت ښه شو، نو دواړه مې بېرته رد کړل.)

له لویو ستونزو سره چې مخ شو، دومره به نه وارخطا کېږو چې فرصتونه هم رانه لاړ شي. ترڅې مو چې اقدام نه وي کړی، د ستونزې حل به هم نه وي. هیله مندي خپله پیل دی، خو که بریا غواړو، نو عمل او اقدام باید ورسره وي.

د اقدام له قانونه ګټه واخلئ، د لویو او وړو وېرو مخ ته کلک ودرېږئ او حللارې ولټوئ. له ځانه وپوښتئ: (د خپلې وېرې د وژلو لپاره باید څه وکړم؟)

خپلې وېرې مهار کړئ او بیا مناسب کار ته لاس واچوئ.

دوام لري...

# د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي



د نیمروز د لوړو زده کړو موسسې د بنسټ ډبره د یوه پوهنځي (ښوونې او روزنې) په درلودو سره په ۱۳۹٦ لمریز کال کې کېښودل شوه. د دې موسسې رییس او بنسټ اېښودونکی پوهنیار محمدقاسم عادل وایي، د نیمروز د خلکو له پر له پسې غوښتنو او هڅو وروسته پر دې وتوانېدل چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ په دغه ولایت کې هم د لوړو زده کړو د موسسې د بنسټ ډبره کېږدي، څو خپله د نیمروز ولایت او د هېواد د نورو ولایتونو ځوانان پکې لوړې زده کړې وکړي. دی وایي، د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه تر اوسه یو پوهنځی (ښوونه او روزنه) لري چې په څلورو ډیپارټمنټونو (ریاضي، فزیک، کیمیا او بیولوژي) کې یې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي.

عادل وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې د نورو پوهنځیو د منظورۍ غوښتنلیک سپارلی دی، خو تر اوسه پورې ورته کوم نوی پوهنځی نه دی منظور شوی. دی وایي، هڅه به یې دا وي چې څومره ژر کېدای شي، د نیمروز د لوړو زده کړو په موسسه کې به نوي پوهنځي تاسیس کړي، څو په بېلابېلو برخو کې پوهنځي ولري او له ګام پر ګام پرمختګ وروسته، د لوړو زده کړو دغه موسسه پوهنتون ته ارتقا وکړي.

د دې موسسې رییس وایي، په لومړي کال لوړو زده کړو وزارت ورته د کانکور ازموینې له لارې ۲۰۰ محصلین ور پېژندلي وو، خو دا چې دغه موسسه نوې تاسیس شوې وه او ډېری محصلینو ورته زړه نه ښه کاوه، نو یوازې ۱۳۰ تنو د زده کړو لپاره نوملیکنه وکړه او ټولګیو ته حاضر شول. دی وایي، له دې ډلې ځینو یې د کال په اوږدو کې زده کړې پرېښودې او ځینو نورو بیا په ازموینو کې له ناکامۍ وروسته له موسسې سره مخه ښه وکړه، اوس ورته له تېر کال څخه په دویم ټولګي کې یوازې ٦۵ محصلین پاتې دي چې په دې ډله کې ۳۵ یې ښځینه او ۳۰ یې نارینه محصلین دي. د پوهنیار محمدقاسم عادل په خبره، روان ۱۳۹۷ لمریز کال ورته د کانکور ازموینې له لارې ۱۷۵ نوي محصلین ور معرفي شوي چې د ښوونې او روزنې پوهنځي په څلورو ډیپارټمنټونو کې زده کړې کوي.

عادل وایي، دوی تر اوسه پورې په کلنۍ ډول یوازې همدا د ښوونې او روزنې په یوه پوهنځي کې د ۲۰۰ نویو محصلینو د جذب وړتیا لري، خو د پوهنځیو په زیاتېدو سره بیا کولی شي په کلنۍ ډول له دې څخه زیات محصلین جذب کړي.

د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه تر اوسه پورې ۱٦ کادري غړي لري چې ټول یې نارینه دي. د دې موسسې رییس وایي، د موسسې له تاسیس سره سم ورته د لوړو زده کړو وزارت له خوا د ۱٦ استادانو تشکیل ورکړل شوی و چې په۱۳۹۷ لمریز کال کې هم ورته دوه نور استادان په تشکیل کې زیات شوي، خو لا یې رسماً خپلې دندې نه دي پیل کړې. د عادل په خبره، په نږدې راتلونکي کې به دغه استادان هم د نیمروز د لوړو زده کړو په موسسه کې د استادانو په توګه خپله دنده پیل کړي. پوهنیار عادل وایي، دا چې نیمروز د افغانستان یو ډېر لرې پروت ولایت دی، نو هغه استادان چې د دوکتورا او ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري، زړه نه ښه کوي چې په دې موسسه کې دنده واخلي. دی وایي، تر اوسه پورې چې کوم استادان د لوړو زده کړو په دې موسسه کې د تدریس چارې مخ ته وړي، ټول یې یوازې د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري، خو اوس تازه یې دوه تنه استادان د ماسترۍ لپاره له هېواده بهر چین او هند ته استولي دي چې له ماسترۍ وروسته به بېرته خپلو دندو ته را وګرځي. د نیمروز د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، هڅه یې دا ده چې هر څومره ژر چې کېدای شي د پاتې نورو استادانو لپاره هم په کور دننه او بهر کې د ماسترۍ په پروګرام کې د شاملېدو چانس برابر کړي او د لوړو زده کړو وزارت له لایحې سره سم له دې وروسته چې کوم استادان په دنده ګوماري، لږ تر لږه باید د ماسترۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري.

که څه هم چې د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه نوې تاسیس شوې ده، خو بیا یې هم د محصلینو او استادانو د یو څه ستونزو د راکمولو لپاره یو کوچنی کتابتون جوړ کړی دی.

د نیمروز د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، په کتابتون کې یې زر ټوکه کتابونه شته چې محصلین او استادان وخت ناوخته ترې د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه اخلي. عادل وایي، دغه کتابونه یې په نیمروز کې د عدلیې ریاست، اطلاعاتو او کلتور ریاست او هرات پوهنتون په مرسته برابر کړي دي. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې د لوړو زده کړو وزارت او نورو بنسټونو په مرسته کتابتون لوی او د کتابونو شمېر یې ور زیات کړي.

د نیمروز د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، تر اوسه پورې د لیلیې لپاره کومه ځانګړې ودانۍ نه لري او هغه محصلین چې له نورو ولایتونو څخه راغلي او د لیلیې پر شرایطو برابر دي، د لوړو زده کړو وزارت له مقرراتو سره سم ورته د میاشتې څه باندې ۱۸۰۰ افغانۍ ورکول کېږي چې دوی خپله په بازار کې د ځان لپاره کوټې کرایه کړې دي او له درسي ساعتونو وروسته پکې خپل ورځنی ژوند تېروي. عادل وایي، هڅه کوي چې د نورو ودانیو د جوړېدو ترڅنګ د نجونو او هلکانو لپاره هم د لیلیې ودانۍ جوړې کړي او په شرایطو برابرو محصلینو ته خپله د موسسې په لیلیه کې د اوسېدو امکانات برابر کړي.

دا چې د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه تېر کال تاسیس شوې ده او تر اوسه پورې یې د محصلینو شمېر دومره زیات نه دی، نو تېر کال یې یوازې په یوه ټایم کې محصلینو ته تدریس کاوه، خو سږ کال چې د محصلینو شمېر یې یو څه زیات شوی او دا موسسه د تدریسي خونو له کمښت سره مخ ده، نو غواړي په دوو ټایمونو کې محصلین د زده کړو لپاره ور وغواړي چې لومړۍ برخه به یې د سهار له اتو د غرمې تر دوولسو پورې او بله برخه به یې د ماسپښین له یوې د مازیګر تر څلور بجو پورې زده کړو ته ورځي.

پوهنیار عادل وایي، هر پوهنتون یا د لوړو زده کړو موسسه چې کله یې د بنسټ ډبره اېښودل کېږي، له ډېرو ستونزو سره مخ وي، خو له نېکه مرغه د لوړو زده کړو وزارت له خوا پر ځانګړې شوې بودجې سربېره، د نیمروز د علم دوسته خلکو او سیمه ییزو سوداګرو پرمټ یې د محصلینو لپاره د زده کړو زمینه او تر یوې کچې پورې هغه څه چې د محصلینو اړتیا بلل کېږي، برابر کړي دي.

د دې موسسې رییس وایي، دوی تر اوسه خپلې اداري او تدریسي چارې د نیمروز ولایت د دارالمعلمین په ودانۍ کې مخ ته وړي. نوموړی وایي، که څه هم چې لوړو زده کړو وزارت ته یې د اداري، تدریسي او د لیلیې لپاره د ودانیو د جوړېدو غوښتنلیکونه سپارلي، وعدې ورسره شوې، خو چارې یې عملاً نه دي پیل شوې. دی وایي، دا چې ۹۷ کال په تېرېدو دی، نو له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د ۹۸ کال له پیل سره سم ورته د دې دریو ودانیو د جوړېدو غم وخوړل شي، څو د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه هم د خپلو ودانیو څښتنه شي چې بیا وروسته به ګام پر ګام د نورو پوهنځیو په زیاتېدو سره د نورو ودانیو د جوړېدو هڅه هم کوي.

پوهنیار عادل وایي، دا چې د ښوونې او روزنې پوهنځي په ډېری ډیپارټمنټونو کې ساینسي مضامین تدریسېږي او لابراتوار ته جدي اړتیا پکې لیدل کېږي، نو له لوړو زده کړو وزارت او په دغه ولایت کې یې له ملي سوداګرو غوښتنه دا ده چې په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي. که څه هم چې د یوه پوهنتون یا د لوړو زده کړو د یوې موسسې لپاره، پر ودانیو سربېره، لابراتوارونو، جومات، کتابتون، سپورټي میدانونو، ژورو ځاګانو، برېښنا، شنې ساحې او د ډېرو نورو اړینو امکاناتو اړتیا لیدل کېږي، خو د نیمروز د لوړو زده کړو موسسه تر اوسه پورې له دې هر څه بې برخه ده. د لوړو زده کړو د دې موسسې رییس له لوړو زده کړو وزارت او نورو اړوندو ادارو څخه غواړي چې په دې برخه کې یې لاسنیوی وکړي او اړین امکانات ورته برابر کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۵۰ |
| € | ۸۶,۳۰ |
| Rp. | ۵۳۸ |
| ₹ | ۱۰۷۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۷,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - دوبی | 21:00 |
| کابل - جده | 17:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحيدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# فشار چشم؛ دلایل، علائم، راه‌های تشخیص و درمان آن

ترجمه: فایز کریمی

فشار چشم وضعیتی است که در آن فشار داخل چشم به بالاتر از حد طبیعی می‌رسد. واحد سنجش فشار چشم، میلی‌متر جیوه است. فشار طبیعی چشم بین ۱۰ تا ۲۱ میلی‌متر جیوه است و افزایش این مقدار به بالاتر از ۲۱ میلی‌متر جیوه نشانه‌ای از فشار چشم است. افزایش فشار چشم یکی از مهمترین عواملی است که خطر ابتلا به بیماری آب‌سیاه (گلوکوم) را افزایش می‌دهد. آب‌سیاه از اختلالات چشم است که می‌تواند باعث کاهش قدرت بینایی و حتی بروز نابینایی شود. در ادامه این مطلب همراه ما باشید تا با فشار چشم بیشتر آشنا شوید.

**فشار چشم چیست؟**

در طول سال‌های اخیر تعریف فشار چشم بارها تغییر کرده است. به‌طور کلی فشار چشم معمولاً با شرایط و معیارهای زیر تعریف می‌شود:

در حداقل دو نوبت معاینه یا بیشتر فشار چشم بالاتر از ۲۱ میلی‌متر جیوه باشد. فشار چشم به وسیله ابزاری به‌نام «تونومتر» اندازه‌گیری می‌شود؛

**وضعیت عصب بینایی طبیعی باشد؛**

در آزمون میدان بینایی، هیچ نشانه‌ای از آب‌سیاه در فرد مشاهده نشود. این آزمون برای ارزیابی دید پیرامونی افراد استفاده می‌شود؛

داکتر چشم تشخیص بدهد که علت فشار چشم، بسته‌بودن سیستم تخلیه زلالیه چشم نیست. زلالیه مایع شفافی است که بین قرنیه و عدسیه چشم قرار داشته و فضای جلوی عدسی را پُر می‌کند. سیستم تخلیه زلالیه چشم، زاویه چشم (زاویه اتاق قدامی) نامیده می‌شود. زاویه چشم به کمک تکنیکی به نام «گونیوسکوپی» معاینه می‌شود. در این تکنیک از یک لنز تماسی ویژه استفاده می‌شود تا مشخص شود کانال‌های داخلی چشم چه وضعیتی دارند. ممکن است این کانال‌ها باز، بسته یا تنگ شده باشند.

هیچ نشانه‌ای از سایر بیماری‌های چشم وجود نداشته باشد. برخی بیماری‌های چشم می‌توانند فشار چشم را افزایش بدهند.

فشار چشم به تنهایی بیماری محسوب نمی‌شود، بلکه وضعیتی است که به افراد هشدار می‌دهد که بیشتر مراقب باشند تا به آب‌سیاه مبتلا نشوند. زیرا فشار چشم از عواملی است که خطر ابتلا به آب‌سیاه را افزایش می‌دهد. به همین دلیل برخی به مشکل فشار چشم، «مستعد آب‌سیاه» نیز می‌گویند. آزمون چشم می‌تواند نشان بدهد که عصب بینایی تحت تأثیر آب‌سیاه قرار دارد یا خیر.

یکی از دلایل افزایش فشار چشم، بیماری‌های چشم است. بااین‌حال در این مطلب بیشتر تمرکز ما بر بررسی افزایش فشار چشم بدون آسیب به عصب بینایی و کاهش بینایی است. آب‌سیاه همراه با کاهش بینایی و آسیب به عصب بینایی همراه است. معمولاً آب‌سیاه با افزایش فشار چشم هم همراه است، ولی ممکن است گاهی در اثر آب‌سیاه، فشار چشم تغییری نداشته باشد.

اطلاعات جدید در مورد مبتلایان به فشار چشم نشان می‌دهد، به طور اوسط احتمال ابتلای آن‌ها به آب‌سیاه ۱۰٪ است. اگر بتوان فشار چشم را با دارو یا جراحی لیزر کاهش داد، این عدد به نصف یا ۵٪ کاهش می‌یابد. البته توسط تکنیک‌های جدید شناسایی آب‌سیاه، احتمال کاهش بیشتر این عدد هم وجود دارد. در نتیجه می‌توان روند درمان را زودتر و پیش از کاهش قدرت بینایی شروع کرد.



بیماران مبتلا به نازکی قرنیه بیشتر از دیگران در خطر ابتلا به آب‌سیاه هستند. بنا براین ممکن است داکتر چشم به‌وسیله ابزاری به نام «پاکیمتر» ضخامت قرنیه را بررسی بکند.

احتمال ابتلا به فشار چشم ۱۰ تا ۱۵ برابر بروز «آب‌سیاه زاویه‌باز» است. آب‌سیاه زاویه باز شکل رایجی از آب‌سیاه است. این به آن معناست که از هر ۱۰۰ نفر بالای ۴۰ سال در حدود ۱۰ نفر فشار چشم بالای ۲۱ میلی‌متر جیوه دارند. ولی از بین آنها فقط یک نفر به آب‌سیاه مبتلا می‌شود.

چندین مطالعه نشان دادند که احتمال آسیب‌های ناشی از آب‌سیاه در افرادی با فشار چشم ۲۱ تا ۲۵ میلی‌متر جیوه ۲,۶ تا ۳٪، در افرادی با فشار چشم ۲۶ تا ۳۰ میلی‌متر جیوه ۱۲ تا ۲۶٪ و در افرادی که فشار چشم بالای ۳۰ میلی‌متر جیوه دارند، ۴۲٪ است.

حدود ۳٪ از افراد مبتلا به فشار چشم دچار انسداد رگ‌های داخل شبکیه می‌شوند. این امر می‌تواند منجر به کاهش بینایی شود. به همین دلیل به افراد بالای ۶۵ سال و مبتلایان به فشار چشم توصیه می‌شود، فشار چشم‌شان را کمتر از ۲۵ میلی‌متر نگه دارند.

برخی مطالعات نشان می‌دهند فشار چشم در آفریقایی ها و آمریکایی‌ها به‌طور اوسط از سفیدپوست‌ها بیشتر است. درحالی‌که برخی مطالعات دیگر هیچ تفاوتی را نشان نمی‌دهند.

مطالعه‌ای ۴ ساله نشان داد که سیاه پوستان امریکایی (امریکایی‌های افریقایی‌تبار) مبتلا به فشار چشم ۵ برابر سفیدپوستان در معرض ابتلا به آب‌سیاه قرار دارند. یافته‌ها نشان می‌دهند آنها قرنیه نازکتری دارند. شاید به همین دلیل احتمال ابتلای آنها به آب‌سیاه بیشتر باشد. زیرا قرنیه نازک می‌تواند موجب بروز خطا در اندازه‌گیری فشار چشم شده و آن را کمتر از مقدار واقعی نشان بدهد. علاوه براین امریکایی‌های افریقایی‌تبار ۳ تا ۴ برابر بیشتر در معرض ابتلا به آب‌سیاه زاویه‌باز هستند. همچنین به‌نظر می‌رسد آنها بیشتر در معرض آسیب به عصب بینایی قرار دارند.

اگرچه برخی مطالعات نشان می‌دهند که فشار چشم در زنان به‌طور چشمگیری بیشتر از مردان است، برخی مطالعات دیگر تفاوتی را نشان نمی‌دهند.

مطالعات نشان داده‌اند مردان مبتلا به فشار چشم بیشتر از زنان در معرض آسیب‌های ناشی از بیماری آب‌سیاه قرار دارند.

همان‌طور که با افزایش سن احتمال بروز آب‌سیاه بیشتر می‌شود، فشار چشم نیز با افزایش سن به‌آهستگی افزایش پیدا می‌کند.

سن بالای ۴۰ سال از عواملی است که خطر ابتلا به آب‌سیاه زاویه‌باز و فشار چشم را افزایش می‌دهد.

افزایش فشار چشم در افراد جوان عاملی برای نگرانی است. زیرا این افراد سال‌های طولانی‌تری را باید با فشار چشم بالا زندگی کنند و در نتیجه احتمال بروز آسیب به عصب بینایی در آنها بالاتر است.

**علت بروز فشار چشم**

ابتلا به فشار چشم باعث نگرانی است. زیرا خطر بروز آب‌سیاه را افزایش می‌دهد. افزایش فشار چشم به‌خاطر عدم‌توازن تولید و تخلیه زلالیه اتفاق می‌افتد. در این پدیده کانال‌هایی که به طور طبیعی موجب خروج مایعات از چشم می‌شوند، به درستی کار نمی‌کنند. با اینکه تولید زلالیه همچنان ادامه دارد، اما به خاطر اختلال در عملکرد کانال‌های تخلیه از چشم تخلیه نمی‌شود. این امر موجب افزایش فشار داخل چشم و در نتیجه افزایش فشار چشم می‌شود.

افرادی که قرنیه سالم اما ضخیم‌تری دارند، فشار چشم‌شان بالاتر از مقدار واقعی نشان داده می‌شود که ممکن است فشار چشم آنها، آن‌قدری که نشان می‌دهد، بالا نباشد.

**علائم فشار چشم**

معمولاً بیشتر مبتلایان به فشار چشم علائم خاصی ندارند. به همین دلیل انجام منظم معاینات توسط داکتر چشم بسیار مهم است تا مشخص شود در اثر افزایش فشار چشم آسیبی به عصب چشم وارد شده است یا خیر.

**آزمایش‌های تشخیصی**

داکتر چشم آزمایش‌هایی انجام می‌دهد تا فشار چشم را اندازه بگیرد که بعد بتواند از بروز آب‌سیاه جلوگیری کند. این آزمایش‌ها عبارت‌اند از:

اولین ارزیابی، حدت بینایی است که نشان می‌دهد فرد اشیا را با چه کیفیتی می‌بیند. برای این کار فرد باید جهت حروفی را که در صفحه‌ای قرار دارد و داکتر چشم از او می‌پرسد، بگوید.

معاینه قسمت جلویی چشم که شامل قرنیه، اتاق قدامی، عنبیه و عدسیه است. این بخش از چشم به کمک یک میکروسکوپ ویژه به نام لامپ اسلیت معاینه می‌شود.

تونومتری روشی برای معاینه فشار چشم است. فشار چشم در هر چشم حداقل در ۲ یا ۳ نوبت اندازه‌گیری می‌شود. زیرا فشار چشم در افراد هر ساعت تغییر می‌کند. ممکن است این اندازه‌گیری در زمان‌های مختلفی از شبانه‌روز انجام شود. اگر تفاوت فشار بین دو چشم ۳ میلی‌متر جیوه یا بیشتر باشد، می‌تواند نشانه‌ای از آب‌سیاه باشد. همچنین اگر فشار چشم به طور منظم افزایش پیدا کند، می‌تواند نشانه‌ای از آب‌سیاه زاویه باز باشد.

هر عصب بینایی برای مشاهده آسیب یا ناهنجاری معاینه می‌شود. ممکن است برای این کار از ابزاری برای بازکردن مردمک چشم استفاده شود تا بتوان عصب بینایی را به خوبی معاینه کرد. سپس از سطح عصب بینایی تصاویری گرفته می‌شود تا برای معاینات و اقدامات بعدی مورد استفاده قرار بگیرد.

گونیوسکوپی آزمایش بعدی است که به‌کمک آن زاویه چشم معاینه می‌شود. برای انجام گونیوسکو یک لنز تماسی ویژه روی چشم قرار داده می‌شود تا مشخص شود زاویه چشم چه وضعیتی دارد. در نتیجه می‌توان از سایر مشکلاتی که موجب افزایش فشار چشم می‌شوند، جلوگیری کرد.

آزمایش میدان بینایی برای بررسی دید پیرامونی انجام می‌شود. برای این آزمایش معمولاً از دستگاهی به نام پریمتر استفاده می‌شود. این آزمون برای اطلاع از هرگونه نقص میدان بینایی ناشی از آب‌سیاه انجام می‌شود. ممکن است این آزمون نیاز به تکرار داشته باشد. اگر خطر آسیب ناشی از آب‌سیاه کم باشد، ممکن است آزمون سالی یک بار انجام بشود. اگر خطر بروز آسیب‌های ناشی از آب‌سیاه بالا باشد، ممکن است انجام این آزمون هر ۲ ماه یک بار ضرورت پیدا بکند.

پاکیمتری یا اندازه‌گیری ضخامت قرنیه به کمک یک ابزار فراصوت اندازه‌گیری می‌شود تا فشار چشم به طور دقیق مشخص بشود. نازکی قرنیه می‌تواند باعث شود که فشار چشم به اشتباه کمتر نشان داده شود. ضخامت بیشتر قرنیه نیز باعث می‌شود فشار چشم به اشتباه بیشتر از مقدار واقعی‌اش نشان داده شود.

**درمان**

معمولاً روند درمان با توجه به فشار چشم طبق دستورالعمل‌های زیر انجام می شود:

اگر فشار چشم‌تان ۲۸ میلی‌متر جیوه یا بیشتر باشد، روند درمان‌تان با دارو شروع می‌شود. پس از یک ماه مصرف دارو، داکتر چشم نوبت دیگری را برای معاینه مشخص می‌کند تا تأثیر دارو را مشخص کند. اگر داروها تأثیرگذار بودند، معمولاً هر ۳ تا ۴ ماه یک بار نوبت معاینه برای‌تان تعیین می‌شود.

اگر فشار چشم‌تان ۲۶ تا ۲۷ میلی‌متر جیوه باشد، فشار چشم‌تان ۲ تا ۳ هفته پس از اولین معاینه مجدداً اندازه‌گیری خواهد شد. در دومین معاینه اگر فشار چشم‌تان هنوز در محدوده ۳ میلی‌متر جیوه از اولین معاینه قرار داشت، باید هر ۳ تا ۴ ماه برای معاینه مجدد به داکتر چشم‌مراجعه بکنید. اگر پس از آن فشار چشم‌تان پایین‌تر از نوبت دوم معاینه بود، ممکن است داکتر زمان بعدی برای معاینه مجدد را افزایش بدهد. همچنین باید حداقل سالی یک بار آزمون میدان بینایی انجام دهید و عصب بینایی‌تان معاینه شود.

اگر فشار چشم‌تان بین ۲۲ تا ۲۵ میلی‌متر جیوه بود، نوبت دیگر معاینه برای ۲ تا ۳ ماه دیگر تعیین می‌شود. در معاینه دوم اگر هنوز فشارتان در محدوده ۳ میلی‌متر جیوه از اولین معاینه بود، نوبت بعدی معاینه برای ٦ ماه بعد تعیین می‌شود. معاینه بعدی شامل تست میدان بینایی و معاینه عصب بینایی خواهد بود. سپس حداقل سالی یک بار این آزمون‌ها تکرار می‌شوند.

**مراحل پس از تشخیص**

بسته به میزان آسیب به عصب بینایی و میزان کنترل فشار چشم، باید مبتلایان به فشار چشم از هر ۲ ماه یک بار تا سالی یک بار به داکتر چشم مراجعه کنند. همچنین اگر نتوان فشار چشم را به خوبی کنترل کرد، ممکن است نیاز باشد تا فرد زودتر به داکتر چشم مراجعه کند. کسانی‌که فشار چشم بالا دارند، ولی آزمون عصب بینایی و میدان بینایی‌شان طبیعی است یا کسانی‌که نتایج آزمایش عصب بینایی و میدان بینایی‌شان مشکوک است، حتی با وجود طبیعی‌بودن فشار چشم باید نگران آب‌سیاه باشند.

**پیشگیری**

نمی‌توان از بروز فشار چشم جلوگیری کرد. اما با مراجعه منظم به داکتر و مراقبت می‌توان از پیشرفت آن و ابتلا به آب‌سیاه جلوگیری کرد.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۲۳مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۱۳مه | دویم کال | ۳۱۶مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۱۵ | ۱٤ | ۱۰ | ۱٤ | ۱۱ |
| -۱۵ | ۳ | -۲ | -۱ | -۲ | -٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:٤۷ | لمر ختل ۰۷:۱۳ | ماسپښین ۱۲:۱۹ | مازیگر ۰۳:٤۷ | ماښام ۰۵:۲٤ | ماخوستن ۰٦:۵۱

## نړۍ



# پامپیو: پر ایران د فشار راوړلو لپاره راتلونکې میاشت په وارسا کې غونډه جوړوو

۳

## هند: د دوه اړخیزو خبرو لپاره پاکستان جدي نه دی



هندي چارواکو د پاکستان له لوري د خبر وړاندیز رد کړی دی. د دغه هېواد چارواکي وايي، د دوه اړخیزو خبرو لپاره پاکستان جدي نه دی.

د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند رویش کومار خبریالانو ته ویلي: «که پاکستان خبرو ته چمتو دی، ولې د هغو ترهگرو پر ضد اقدامات نه کوي چې په پټان کوټ او بمبۍ سیمو کې یې بریدونه کړي».

نوموړي دغه راز ویلي: «پاکستان اوس هم سخت دریځو ډلو ته اجازه ورکوي چې خاوره یې استعمال کړي. هغه مرسته چې په پاکستان کې له سخت دریځو سره کېده، اوس هم کېږي او تر دې هم خطرناکه چاره دا ده چې دغه تنظیمونه په مرکزي ملي بهیر کې شاملېږي».

دا په داسې حال کې ده چې په پاکستان کې د عمران خان په مشرۍ نوي حکومت څو ځله هند ته د خبرو وړاندیز کړی دی، خو د هند له لوري تر اوسه مثبت ځواب نه دی ورکړل شوی.

د کومار له څرگندونو څو اونۍ مخکې د هند د بهرنیو چارو وزیرې سوشما سواراج ویلي وو چې ترهگري او خبرې په یوه وخت کې نه شي کېدای.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان په دې وروستیو کې ویلي چې د پاکستان له هڅو سره سره هند بیا هم خبرو ته نه چمتو کېږي.

بل لور ته څو میاشتې وروسته په هند کې پارلماني ټاکنې کېږي او لومړی وزیر نریندرا مودي دغو ټاکنو ته پر چمتووالي بوخت دی. د سیاسي چارو شنونکي پر دې باور دي چې ښايي له ټاکنو وروسته د دواړو هېوادونو تر منځ په خبرو کې مثبت پرمختگ راشي.


## کاناډا سعودۍ پېغلې ته پناه ورکړه

د سعودي عربستان اوسېدونکې ۱۸ کلنه رهف محمد القنون د خپلې کورنۍ د بد چلند له کبله کاناډا ته تللې ده.

د کاناډا لومړي وزیر جسټین ترودو، منلې چې هېواد یې د دې سعودۍ پېغلې د پناه غوښتنه منلې ده.

نوموړي ویلي: «پناه ورکول هغه موضوع ده چې مونږ پرې ویاړو، ځکه کاناډا هغه هېواد دی چې په ټوله نړۍ کې د بشري حقونو او د ښځو د حقونو د دفاع په اهمیت پوهېږي».

رپوټونه وايي چې د استرالیا په گډون څو نورو هېوادونو هم د القنون د منلو په هکله د ملگرو ملتونو د مهاجرت اداري سره اړیکه نیولې وه.



د دې ځوانې سعودي نجلۍ پناه غوښتنې په سعودي عربستان کې د ښځو د حقونو ستونزې په ډاگه کړې دي.

ځینې نورې نجونې هم د هغوی په وینا د کورنۍ تاوتریخوالي له کبله له کورونو تښتېدلې وې، خو په سرحدونو کې نیول شوې او بېرته خپل هېواد ته استول شوې دي. د بشري حقونو فعالین وايي، ډېرې نورې داسې پېښې هم شته، خو تر اوسه نه دي رسنیزې شوې.

القنون د بشري حقونو د څار سازمان ته ویلي، کله یې چې په سعودي عربستان کې ژوند کاوه، د ویښتانو د لنډولو له کبله یې د کورنۍ غړو وهلې او ټکولې ده.

نوموړې له کویټ نه د تایلنډ مرکز مانیلا ته پرواز کړی و او هلته تایلنډي پولیسو تم کړې وه. هغې د ټولنیزو رسنیو له لارې نړۍ پر ځان خبره کړه او په استرالیا کې یې د پناه اخیستلو هیله څرگنده کړه.

## کمیسیون انتخابات: بنیاد انتخابات شفاف افغانستان باید پیگرد قانونی شود

کمیسیون مستقل انتخابات، گزارش تیفا مبنی بر دست داشتن کارمندان کمیسیون انتخابات در فساد مالی، انتخاباتی و اخلاقی را بی اساس خوانده، خواستار پیگرد قانونی این نهاد از سوی ارگان های عدلی و قضایی کشور گردید.

بنیاد انتخابات شفاف افغانستان «تیفا»، سه روز قبل با نشر اعلامیه یی گفته بود که به اساس تقویم انتخاباتی، کمیسیون انتخابات با گذشت بیش از دو ماه، نتوانسته است که نتایج ابتدایی تعدادی از ولایات به شمول کابل را اعلام نماید که این موضوع، به صراحت عدم کفایت و شایستگی این کمیسیون و وجود زدوبندهای مالی و سیاسی را در درون این اداره نشان می دهد.

در اعلامیه تیفا آمده است: «به اساس یافته های نظارتی تیفا، سطح بالای فساد انتخاباتی و فساد اخلاقی تا اکنون مانع اعلان نتایج ابتدایی و نهایی انتخابات ولسی جرگه شده است و تیم عملیاتی در کمیسیون، بجای اینکه مصروف جدا نمودن آرای پاک از آرای ناپاک باشند، مصروف معاملات پولی کلان و ازدیاد آرای کاندیدان مورد نظر، در اثر تفتیش ها و بازشماری های گوناگون هستند».

اما کمیسیون انتخابات، دیروز با انتشار اعلامیه یی گفت، که برخی نهادها بدون درک مسؤلیت های وظیفوی شان، وعدم موجودیت اسناد و مدارک، صرف برای شهرت طلبی و اخذ حمایت های مالی و به دست آوردن پروژه های مقطعی، گزارش های بی اساس و بی مدرک را پخش و نشر می نمایند.

این کمیسیون می گوید که در هر جلسه مشورتی، به نهادها و شرکت کنندگان تأکید کرده که در صورت یافتن اسناد و مدارک برعلیه کارکنان کمیسیون و آنانی که روند انتخابات را به چالش می کشانند، موضوع را با کمیسیون شریک سازند تا روند ملی انتخابات صدمه نبینند؛ اما نهاد تیفا بجای شریک کردن اسناد و مدارک به کمیسیون انتخابات، اتهام بی اساس را به کمیسیون وارد کرده است.

## ژوند


### د گشنیزو له دغو طبیعي گټو خبر یاست؟



روغتیایي متخصصان وايي، گشنیز اورۍ سالمې ساتي او د غاښونو د خرابېدو په مخنیوي کې هم گټور دي. د یوناني طب له مخې، گشنیز په طبي بوټو کې حسابېږي او وچ- سوړ طبیعت لري . دغه راز گشنیز معده هم پیاوړې کوي او له خوړو سره د هغه کارول په هضمي سیستم کې اسانتیا راولي. د میندو د شیدو د زیاتېدو لامل گرځي او د غاښونو د درد اراملو لپاره د گشنیزو د دانو ژوول گټه لري .پر دې سربېره گشنیز اشتها راوړونکي هم دي. گشنیز د خولې بد بویي لرې کوي او ډاکتران توصیه کوي چې د هوږې او پیازو له خوړو وروسته که په مناسبه اندازه گشنیز وخوړل شي، د خولې بوی ورکوي. د تغذیې متخصصان وايي، گشنیز اورۍ سالمې ساتي او د غاښونو له خرابېدو هم مخنیوی کوي .د یوناني طب له مخې گشنیز په طبي بوټو کې حسابېږي او وچ- سوړ طبیعت لري. په میندو کې د پیو د زیاتېدو سبب گرځي او د غاښونو د درد د اراملو لپاره د گشنیزو د تخم ژوول گټه لري.

### مصنوعي رڼاگانې او پر خوب یې اغېز

بې خوبي او په خوب کې گډوډي نن ورځ پر یوې جدي ستونزې بدله شوې او له امله یې جسمي، رواني او نورې روغتیایي ستونزې رامنځته کېږي او هم مو پر کار ناوړه اغېز کوي. تازه څېړنه وايي، هغه کسان چې د کولراډو په یو له کانو ډک غره کې یې د تفریح لپاره خېمه وهلې وه، له هغه وخت څخه دوه نیم ساعته مخکې ویده کېدل، کوم چې عموماً په خپلو کورونو کې د شپې له خوا ویده کېدل. دوی په دغه غره کې د شپې لس ساعته ارام خوب کاوه. څېړونکي وايي، د دغه خوب دلیل ډېر روښانه دی او داسې یو څه دي چې بیا بیا مو اورېدلي او هغه (ټکنالوژي) ده. په معاصره نړۍ کې ژوند کول موږ نه یوازې پرله پسې مصنوعي رڼا او څراغونو ته مخ کوي، بلکې اوس خو له خپلو ټلیفونونو هم خلاصی نه لرو. دا پنځه



ملگري چې دغه غره ته د شپېږو ورځو په مخه د رخصتۍ لپاره تللي وو، خپل ټول برېښنایي او په ټکنالوژۍ پورې تړلي وسایل یې په کور کې پرېښي وو. همدا لامل و چې د هغوی ورځ په طبیعي توگه پر لمر او ماښام یې پر خپل بل کړي اور روښانه و.